## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

### د باجوه-عمران رژیم امریکا ته د افغانستان په سپارلو سره نه یوازې د ټرمپ بیا ټاکنو کمپاین ته ځان ژمن بولي، بلکې په سیمه کې د مسلمانانو پر وړاندې خیانت هم کوي

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د ۲۰۲۰م کال د جنوري په ۲۱مه د سوېس په داوس ښار کې د نړیوالې اقتصادي ناستې په یوه څنډه کې د اسلام او مسلمانانو تر ټولو لوی دښمن ټرمپ سره وکتل، چې په پایله کې یې د مسلمانانو لپاره د ډېرو زیانونو دروازې پرانیستلې. ټرمپ په افغانستان کې د خپلو شکمنو سرتېرو د امنیت معاملې ته اشاره وکړه. دا چې ټرمپ د بیا ټاکنو غوښتنه کوي، نو عمران خان وویل: «موږ دواړه د سولې مینه وال یو او له طالبانو او حکومت سره د خبرو له لارې په افغانستان کې نظم او امنیت غواړو.» د باجوه ـ عمران رژیم په ډېرې بې پروایۍ سره د یوې معاملې لپاره کار کوي، ترڅو د اسلامي نړۍ د یوازیني اټومي قدرت په دروازه او په بډایه او ستراتیژیک موقعیت لرونکي افغانستان کې د امریکا د خصوصي نظامي قراردادیانو او سرتېرو په پاتې کېدلو سره ډاډمن شي. امریکایي حضور او ترهګر ځواکونه یې په اتلسو کلونو کې روانه جګړه نشي ګټلی. له همدې امله رژیم په سیمه کې د امریکا د لوېدلي مورال اوچتولو ته اوږې ورکوي او په داسې حال کې په افغانستان کې د امریکا د امنیت لپاره کار کوي، چې په دغه خاوره کې د دغه ظالم زبرځواک د نظامي حضور ساه په وتو ده.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له امریکا سره د هغوی د ځواک په توګه ایتلاف کول زموږ د بهرني سیاست د کمزورتیا لامل دی. هغه ایتلافونه او تړونونه چې له سترو استعماري قدرتونو او ایالتونو سره لاسلیک کېږي، تر ډېره د هغوی په پلوی تمامېږي. دغه ډول تړونونه هغه استعماري وسیلې دي، چې په واسطه یې ستر قدرتونه د نورو دولتونو په لګښت سره په نړیوال ډګر کې خپل ځانونه پیاوړي کوي. دا یوه تراژیدي ده چې پاکستان له لسیزو راهیسې د امریکایي ګټو د خوندي کولو لپاره سوځول کېږي، په داسې حال کې چې لاسپوڅي چارواکي په خپله سیاسي

او نظامي رهبرۍ کې د لويديځ تر سترګو لاندې يوازې خپل شخصي هويت او ملکيت ساتي. اسلام له کفارو سره نظامي ايتلاف منعه کړی دی او په همدې اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«لا تَسْتَضِيئُوا بِنَارِ الْمُشْرِكِينَ»**

(احمد او النسأ)

***ژباړه:*** *د مشرکينو د اور له روښنايۍ څخه ګټه مه اخلئ.*

همداراز رسول الله صلی الله عليه وسلم له کفر سره ايتلاف هم منعه کړی دی:

**«لاَ نَسْتَعِينُ بِالْكُفَّارِ عَلَى الْمُشْرِكِينَ»**

(مصنف ابن ابي شيبه مصنف ابن حبي شيبة)

***ژباړه:*** *موږ د مشرکينو پر وړاندې له کفارو څخه مرسته نه غواړو.*

دا کومه اختياري مسله نه ده او موږ ته دا ښايي چې له لويو قدرتونو سره د ايتلاف مخه ونيسو او د نبوت په تګلاره د خلافت د بيا تاسيس له لارې نړيوال قدرت تر لاسه کړو. خلافت به له هغو دولتونو سره ايتلافونه بند کړي، چې له موږ سره جنګېږي، ځمکې مو نيسي او په دغه کار کې له نورو سره هم مرسته کوي. خلافت به د نړۍ تر ټولو ځواکمن دولت په توګه د اوسنيو اسلامي دولتونو د اتحاد او ايتلاف لپاره کار وکړي. په دې سره به د لسيزو پيړيو هغه پخوانی دولت يو ځل بيا جوړ کړي او تر څنګ به يې د نړۍ د مخکښ دولت په توګه بېرته د اسلام او مسلمانانو امنيت ټينګ کړي.

## د حزب التحری-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الاول ۲۷مه

۲۰۲۰م کال، د جنوري ۲۲مه

د صدور گڼه: ۱۴۴۱/۴۱